ع . رشید ، د نهروپوهنتون استاد ۲۰۲۴/۰۵/۱۷

# یوه بله پښتو نوې قلمي نسخه له نویونادرو وړتیاوو سره

## د میرزا دیوان یا دیوان هدایت الحقیقت

## ۳۲۰ کلنه پخوانۍ نسخه



**د لوی خدای په نامه**

د ۲۰۲۴کال د مارچ میاشتې په لومړیوکې دهندوستان نامتوښارحیدرآباد ته د دووسیمینارو له پاره چې دمولانا آزاد اردو پوهنتون) مانو (د مشرزما ګران ملګري اوهمکارپروفیسورعین الحسن اودهغه د راجسترار پروفیسوراشتیاق صاحب له خوا دژبواوادبیاتوپوهنځي د پښتواوفارسي څانګوکې جوړشوی و بلل شوی وم، هلته مې له یوزیات شمیرفرهنګیانواوادیبانوسره پیژندګلوي وشوه، د فارسی او پښتوژبې له استادانواو زده کونکو سره مې د یوې اوونۍ په ترڅ کې په زړه پورې علمي اوادبي کتنې اویادونې درلودې، یو په دغوځوانانوډاکترانوکې دسانسکریت ژبې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

داکتراوپه ارينټل کتابتون (*)کې کارکونکی ډاکترعبدالغنی صاحب وچې په سانسکريټ ژبه اوادبياتوکې ډاکتری لري اوديوزيات شميرآثارو ژباړونکی هم دی، له ده مې هيله وکړه چې په ارينټل کتابتون کې د پښتو قلمي نسخوپه اړه څه معلومات را ته راکړي، په سبايې راته وويل چې له موږ سره دميرزاخان د ديوان نسخه شته اويوه بله هم ...ربښتياداچې ماته معلومه وه چې دانسخه زموږ.مشراستاد هيوادمل صاحب ليدلې وه اوپه خپل اثرکې يادونه هم کړې وه، ان چې يوکربښه ليکنه يې هم پريادګاري شته ده .

په هرډول زه پرډې وتوانيدم چې ددغه ديوان يوڅوپاڼې وموم، اوس غواړم دلته ددغې نسخې يوه لنډه پيژندګلوي اوتبصره له تاسوګرانودوستانوسره په دغه اړه شريکه کړم، په دې هيله چې ځومره ماته جالبه اود پاملرنې وړشوه تاسې درنودوستانوته هم په زړه پورې شي .

دميرزا ددغه ديوان له پاره ځانګړی نوم غوره کړل شوی دی،سره له دې چې ميرزا په خپله دحقيقت لاربښود خودغه ديوان يې هم د )ديوان هدايت الحقيقت (په نامه نومول شوی دی، ددغه نوم يادونه د ديوان پرننې استناد نه ده ولاړه بلکه يوازې د نسخې په پيل کې دغه يادونه هغه هم په فارسي ژبه داسې ليکل شوې ده)»: ديوان (هدايت الحقيقت قلمي بزبان پشتومن تصنف مرزاخان پسرنورالدين خان انصاري بعهد جهاندارشاه پادشاه «.خوپه مقابل کې يې ۱۸۳۷ شميره هم ليکلې چې دا به دکتابتون دثبت شميره وي اوکه دخطاطی ؟ خوزه دم ګړی زيات فکرکوم چې په دغه کال دغه نسخه آصفيه لايبراری ته سپارل شوې وي .

په هرډول په نسخه کې دجهاندارشاه نوم اوعصرته اشاره شوې په مغلی سلسله کې دوه جاندارشاهان راغلي چې يو پلاردی اوبل زوی،چې د پلارد زيږيد نيټه يې ۱۶۴۳ م اود مړينې يې ۱۷۱۲م ده ، همداسې يې د زوی د پاچا کېدو نيټه له ۱۷۵۴څخه تر ۱۷۵۹ م کال پورې ده .چې په عالمګيرثانی باندې نامتوو، خوموږ بايد دلته جهاندارشاه پادشاه (۱۷۱۲مړ) په نظرکې ونيسو چې دده واکمنی ترېوه کاله کمه موده وه .دنسخې په پای کې يوه بله لنډه يادونه هم په فارسی کې شوې چې هلته يې ليکلي چې ګواکي دغه نسخه د)جهاندارشاه د آمد (پرمهال) ۱۷۱۲م (ليکل شوی اويانقل شوې ده .اوس خبره داده چې د فارسی متن له مخې دا لومړی ځل دی چې دده ديوان ته) د ديوان هدايت الحقيقت (نوم کارول کيږي، ځکه خودغه نوم په نورونسخواوان چاپي ديوانوکې هم دميرزا د ديوان له پاره نه دی کارول شوی اونه زموږ پخوانيوداسې کوم نامه ته اشاره کړې ده،د ديوان په پای کې فارسي ليکنه داسې ده :

»ديوان هدايت الحقيقت من تصنف ميرزاخان پسرنوالدين مريد دوست محمد ولد ملامحمدترين ساکن پشاورحصوص بلده خجسته بنياد درميان قطب پوره خصوص محمدپوره بوقت ظهرقبل ازنماز روزشنبه شهرجمادی الثانی آمد جهاندارباشاه بجهت خود به انصرام رسانيده درصوفه دا اود خان که درجماعه وحيدخان ترين درکنار نوکرهستم .

هرکه خواند دعاء طمع دارم زانکه من بندهء کنه کارم

لکها رهی بهت دن جو رکهه جانی کوی لکهن هارا با پرا جوکلکل ما تے هوی

جالبه داده چې ددغې نسخې دليکلويا خطاطی کال ۱۷۱۲ دی چې دخوشحال دمړينې له نيټې) ۱۶۸۹ (سره يوازې ۲۳ کاله واټن لري، په دې کې شک نشته چې خوشحال خپله د ميرزا خان ديوان لوستی اودهغه له ليکنې سره هم خامخا بلد و،خوکوم پښتوتوري چې په دغه نسخه کې کارول شوي، دهغو زياتره دخوشحال اوترهغه را وروسته په ډيروآثاروکې نه ليدل کيږي ...يوازې دوه دری توری (ښ – ډٍ - ړ (هغه توري دي چې په روښاني متونوکې کارول شوي، دانورټول يوازې په معاصرپښتوليکدودکې ترسترګوکيږي اوبس .

ددې له پاره چې دغه نسخه تراوسه نه ده چا پ شوې اوباوردی چې په تيروچاپونه کې هم نه چا کارولی اونه يې ليدلي دي،نواوس به هم يوڅه نورسترګې پرلاشوځودغه قلمي نسخه مقابله اوپرتله شي، زه باورلرم چې دا نسخه به زموږ دليک ليکنې په بهيرکې ديوه نوي بدلون اوانقلاب په تيره بيا دهغوی له پاره چې دکلاسيکوآثارو دسمونواوخپرولوپه برخه کې دلهجوي لوړتيا اوعظمت طلبی له خرخشې ليرې کارکوي يونوی اوخوشالونکي زيري شي،ځکه :

په دغه نسخه کې د « ژ» له پاره « ږ) او د» ګ «له پاره (ګ) توری لکه په (څرګند) او( پرهيزګار) وييونوکې )قلمی نسخه ۱۷- ۱۸ مخونه ( کاريدلی دی، همداسې نورتوري لکه « څ « په) څلور] (قلمی نسخه ۱۲۲مخ » ( ړ«په) پدواړکون) (قلمي نسخه ۱۲۴مخ» (ښ «په) ښبيښه ) ( قلمی نسخه ۲۳مخ) په اوسنۍ بڼه لکه چې موږ يې کاروو، کارول شوي دي. ان چې په ځينوځايو کې يې د (ژ) پرځای (ج) هم کارولی لکه په) جوندون ) (قلمی نسخه ۱۷- ۱۸ مخونه ( کې .همداسې « ټ » هم په اوسنۍ بڼه کاروی لکه په (اټکل) (قلمی نسخه ۲۱مخ ) کې . يا «ڼ» لکه په (کوڼ ) قلمی نسخه ۲۵مخ ( کې .داوسنۍ» ځ « له پاره) ر -د ( ترلاندې (.) لکه چې) ځان (د) ډٍان ( په بڼه ليکي .همداسې «ډ «دروا‌خله هغه هم لکه زموږپه اوسني دود (ډ) سره ليکي ) ډيرمين) (قلمی نسخه ۱۲۵مخ (کې. همداسې په ټول متن کې يې يوازې دوې (ی) ګانې کارولې لکه څرګنده (ي ) او ) ے) لکه په) کښے (کې .

د ديوان د پيل شعرونه ټول په الفبايي تسلسل سره پيل شوي اوليکل شوي دي، لکه :

الف اول څړه وحدت دی نن راغلی په کثرت دی ...

ب باورپدا کلام کړ)ه (ته دووم فکر حرام کړ) ه ... (

ت تلوارکړ)ه (پدا مرست (ه) نن طلب وکړ(ه) د وقت (ه) .... تر ی پورې ...



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د الفبايی تسلسل شعرونه په دغه بيت سره پيل کيږي :
دميرزا کلام شيرين دی       د روښان له برکته
له دغې مقطع څخه وروسته الف، شعر په لاندې انځورکي په بشړډول سره لوستلای شو،



د قلمي نسخي لومړی شعر
کوم شعرچي له دغه الفبايی لړه وروسته دلومړي شعرپه توګه راوړل شوی له هغه شعرسره چي دکابل چاپ ديوان په پيل کي راغلی په دغې نسخه کي ګرد سره ما ونه موند، دکابل چاپ په لومړي مخ کي د راغلي شعرڅوبيتونه دادي :

| | |
|---|---|
| نن به وکړم څو صفته | دمولا له ارادته |
| هريوفعل چي يي ويني | خالي نه دی له حکمته |
| پراحمد نزول قرآن شو | چه سل څوارلس يي سورته |
| چي شپږ زره په شماردي، | شپږسوه سپږ شپيته آيته |
| ديرش يي سپاري دی | څوارلس يي سجدې د تلاوته |
| ديرش يي حرفه دهجا دي | ته يي زده کړه نيک خصلته |
| پرمخرج يي برابر کړه | هم هر حرف په خپل صفته |
| درې لکه نه درش زره دولس حرفه | بيا يي څوارلس روايته |
| په پښتو به يي زه وايم | دهرحرف  يازده لغته |
| رهبري يي دتوحيد که | په څولونه عبارته ) .... دمرزا ديوان، کابل چاپ ۱ مخ ) |

په هرډول،ښکاري چي دنسخي لومړی پاڼه اولومړی شعرشکيدلي څکه په بله پاڼه کي يي يوازي وروستی شعرپاتي دی لکه چي په پورتني عکس کي هم ښکاري ( دميرزا کلام شيرين دی ... ، په هرصورت سړی دانه شي ويلای چي ګواکي دانسخه به هم په هرارخيزه توګه بشپړه نسخه وي،څوکه چيری يوه دقيقه اوځيرنيزه ارزونه وشي،څرګنده ده چي دبيلابيلونسخوپه پام کي نيولوسره به يوه بشپړه اوجامع نسخه په تيره بيا چي ددغې نسخي استثنايي ځانګړتيا اوځانګړي املايي اوانشاِيي ورتيا په پام کي ونيول شي داوس له پاره موږ ولرو .يوازنی ټکی چي ماته په دغه نسخه دځانګړي پاملرني اوپادوني وړدی هغه په دغه نسخه دځانګړواونويو پښتوتورودکاروني اصل دی، چي له دغه پلوه موږ دميرزاخان انصاري ددکن دغه نسخه پريوه نوي برېا باندې ور اړوي .
په دغه نسخه کي له الفبايی تسلسله وروسته بيا دغه اوږد شعر چي راشدينو څلورياراڼوته ونده شوی داسې دی :


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

چه کویا) ګویا (ږب) ژبه (کویا) ګویا (په ښه کفتار شے
ابتدایی پنامه دکردکار شے) ... قلمی نسخه ۱۵مخ (

ما ددغې نسخې دری غزلې دکابل له چاپ سره په یوه سری نظرپرتله کړې، هلته مې ولیده چې په هرغزل اونوروشعرونوکې توپیرونه او ګډوډی زیاتې لیدل کیږي، دکابل چاپ دیوان له ماسره و، له نسخې سره زیات توپیرونه لري، ان چې ځینې بشپړې غزلې یاهلته نشته اویاهم دلته، ځکه خوهغه نسخه ډیره نیمګړې راته ښکاره شوه، دنورو نسخوپه اړه هم کیدای شي ګټ مټ ستونزه شته وي .ځکه مې هیله اوسپارښتنه ده داده چې دمیرزا ددیوان دغه نسخه چې له نیکمرغه اوس زموږپه واک کې ده دنویوچاپونواوپرتلیزې څیړنوله پاره دجالب اونادرلیک دود له مخې ترټولومهمه اولومړی لاس نسخه وبلل شي .ځکه چې دانسخه په فونیمکي اولیک دودیزه دهغه پله حیثیت لري چې روښاني دوره مخامخ زموږ له اوسنی دورې اولیک دود سره تړلای شي،چې زما اوکیدای شي زموږ ددغې برخې دڅیړونکواوپوهانوله پاره هم ددغې نسخې دغه ادبي ځانګړنه په علمي لحاظ بوږنونکې اوهېښونکې وي .

کیدای شي زموږ ژبپوهان په دغه برخه کې د لیک لیکنې په برخه کې له موږ سره دا مرسته وکړي چې نورنوموږ په پښتوکې له ځینوخارجي توروچې په یوه وینګ دری انځوره لکه ( س، ث، ص ، غ ، ګ، ږ ژ، پ ، ف ، ځ ، ز، ج ( مو له اړتیا پرته دخپلې الفبې په لست کې کلک نیولي، اود پښتوژبې پراووږومو ورپېټې کړي یوڅه خوندي کړل شواو ورو ورو خبره یوازې پریو شکل (توري) باندې ودروو اوبسنه پروکړو .

څومره به ښه وي چې د دریو اویا ډیرو وینګونو تورو پرځای یوغوره اووټاکو، دم ګړی زموږله پاره ډیرګرانه ده چې دنورو ژبوبې اړتیا توري هم په خپله الفبا کې ونیسواوخبره دې تر (۴۶-۴۵ ) تورو پورې ورسیږي .

په هرډول باوردی چې دغه نسخه به له موږ سره په دغه برخه کې هم مرستندویه شي اوهم لارښوده،

په درنښت
پروفیسور رشید
د ۲۰۲۴کال د می ۱۲
نهروپوهنتون – پښتوڅانګه – هند


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ